# اصلاح الامة

د امربالمعروف، نهي عن المنکر
او شکایتونو اورېدلو وزارت میاشتنۍ خپرونه




امربالمعروف او نهي عن المنکر د ټولنیز سمون مؤثره لار

ترویج و تقویت امربالمعروف و نهی عن المنکر، متضمن جامعه و کشور مترقی، متمدن و عاری از بی عدالتی است.

امربالمعروف او نهي عن المنکر د ټولنیز سمون، صمیمیت، همکارۍ او دیو بل د لاسنیوني تر ټولو مؤثره لار


د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۳ هجري شمسي - ۲۰۲۴ میلادي | د چاپ نېټه: رمضان المبارک - کال ۱۴۴۵ هجري قمري | دوهمه ګڼه



بانوی مسلمان و فریضه جهاد علمی، فرهنگی، و عملی — نویسنده: مولوی محمد عیسی بدخشانی — ۴

په ټولنیز ژوند کې ناوړه عادتونه — لیکوال: مفتي عبدالقهار خالد زرنجوي — ۴

لاندې کسانو سره بحثونه او مرکې مه کوئ! — مولوي نورالحق مظهري — ۴

راپورونه — ۳ ۴


سرمقاله

## روژه د برکتونو میاشت

اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِينَ، والعَاقِبةُ لِلمُتّقين، وَالصَّلاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى اَشْرَفِ اْلاَنْبِياءِ وَالْمُرْسَلِينَ سَيِّدِناَ وَ مَوْلَنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى اٰلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِيْنَ، اَمّا بَعْدُ:

هر کال د اسلامي کلیزې له نهمې میاشتې مخکې، د نړۍ شاوخوا دوه میلیارده مسلمانان د روژې مبارکې میاشتې هر کلي ته چمتووالی نیسي. په داسې حال کې چې روژه په عام ډول د خوراک څخه په نه خوړلو او څښلو مشهوره ده، خو د مسلمانانو لپاره دا یوازې د روژې میاشت نه ده؛ دا د انعام، د رفاقت د انعکاس، عقیدې، سخاوت او قربانۍ سمبول دی.

د ورځې روژه او د شپې لمونځونه په روحي ډول مؤمنانو ته د نوي ژوند د رهبرۍ کولو توان ورکوي، د ټول انسانیت په ګټه د سولې، ورورولۍ او پرمختګ یو نوی باب پرانیزي.

روژه د تقوا څخه ډکه میاشت ده الله تعالی د هجرت په دویم کال پر مسلمانانو د رمضان د میاشتې روژه نیول فرض کړه، الله ﷻ فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ. [ سورة البقره: الاية ۱۸۳]

ژباړه: ای د ایمان خاوندانو فرض کړل شوه پر تاسو روژه لکه چې فرض کړل شوې وه له تاسې څخه په مخکې خلکو د دې لپاره چې تاسې پرهېزګاران شئ.

روژه د برکتونو میاشت ده الله تعالی په دې میاشت کې مسلمانانو ته په هر څه کې برکت اچوي، هر روژه دار ته دا برکتونه د روژې په میاشت کې ډېر روښانه او د لیدو وړ وي همدارنګه د نبي کریم ﷺ څخه حضرت ابوهریرة رضي الله عنه روایت کړی دی چې جناب رسول الله ﷺ فرمایلي: تاسو ته د روژې داسې با برکته میاشت راغله چې الله تعالی یې پر تاسو باندې روژې فرض کړې دي، په دغه میاشت کې د آسمان دروازې خلاصېږي او د دوزخ دروازې بندېږي، دغه ډول په دې میاشت کې سرکښه شیطانان په زنځیرونو تړل کېږي، په دې میاشت کې د الله تعالی یوه خاص شپه ده چې تر زرو میاشتو غوره ده، کوم څوک چې د دغې شپې د خیر څخه بې برخې شو، نو هغه د (هر خیر څخه) بې برخې شو. [مشکوة شریف: ۱۷۳ ج ا]

الله پاک په دې میاشت کې قرآن عظیم الشان نازل کړی دی هغه قرآن چې د انسان د دنیوي او اخروي سعادت لپاره اساسي قانون دی، لکه څنګه چې الله پاک فرمايي: شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدىً لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ. [ سورة البقره: الاية ۱۸۵]

ژباړه: روژه هغه میاشت ده چې قرآن په کې نازل شوی دی، چې د خلکو لپاره هدایت دی او د هدایت لپاره روښانه دلایل او د حق او باطل تر منځ بېلوونکې ده.

ګرانو هېوادوالو! دا چې روژه یوه باعظمته میاشت ده د دې مبارکې میاشتې عظمت او عزت باید وساتو په عباداتو یې استقبال کړو؛ له شتمنو وطنوالو مو هیله ده چې د خپلو بې وسه ورونو لاسنیوی وکړي، په یو حدیث شریف کې راځي چې رسول الله ﷺ فرمايي: من فطر صائماً كان له مثل أجره غير أنه لا ينقص من أجر الصائم شيء. [مسند أحمد]

ژباړه: څوک چې روژه نیوونکي ته روژه ماتی ورکړي، نو ده ته به د روژه نیوونکي غوندې مزدوري ورکول کېږي، بې له دې چې د روژه نیوونکي د مزدورۍ څخه دې کوم شی کم کړل شي.

همدارنګه له تجارانو مو دا هیله ده چې په دې مبارکه میاشت کې د اجناسو د نرخونو له لوړاوي ډډه وکړي، تر څو هر هېوادوال وکولی شي هر څه په ارزانه بیه ونیسي او د روژې مبارکه میاشت په خوښۍ تېره کړي.

## د روژې نیولو فلسفه او حکمتونه

مولوي عبدالغفار جبیر

د روژې نیولو فلسفه څه شی ده او حکمتونه په قران کریم کې زیات دي مونږ ترې یو څو د مثال په ډول وړاندې کوو:

۱: د تقوا الاسته راوړل

الله ﷻ فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ.[ د سورة البقره: الاية ۱۸۳]

ژباړه: ای د ایمان خاوندانو فرض کړل شوه پر تاسو روژه لکه چې فرض کړل شوې وه له تاسې څخه په مخکې خلکو د دې لپاره چې تاسې پرهېزګاران شئ.

د دې آیت څخه دا په ښکاره ډول سره جوتېږي چې د روژې لومړۍ موخه دا ده چې انسان متقي کړي، ظاهر او باطن یې ښکلی او ځلانده شي؛ کله چې یو انسان متقي شي، د رښتینې تقوا څښتن شي د ایمان رڼا یې و زړه ته ورسېږي، نو طبعیت یې داسې جوړ شي چې د ټولو ناوړه کړنو څخه یې بد راځي او پر مستقیمه لاره باندې خپل مسیر طی کوي؛ بله دا چې نېکو کارونو ته یې میلان ډېرېږي او هغه عمل چې ښکلی او ښه وي هغه خوښوي سرته یې رسوي.

۲: صبر او شکر

کله چې یو انسان د خوراک، څښاک او خواهشاتو څخه بند کړل شي، طبیعي ده چې شکایت یې ډېر وي خو روژه و انسان ته د صبر او پوره حوصلې تمرین ورکوي، د الله ﷻ هر څه نعمتونه به شتون لري خو دی صبر کوي روژه په انسان کې د صبر تخم شیندي او د حوصلې او صبر پوښ ور باندې اغوندي، کله چې انسان صبر وکړي نو الله ﷻ د تل لپاره د صابرانو سره وي (ان الله مع الصابرین) او بل لور ته د صابرانو نعمتونه او رحمتونه بیا د قلم په ژبه باندې نشي لیکل کېدلی، کله چې یو انسان متقي شي بیا صابر شي د دې تر څنګ د رحمتونو میاشت وي نو د دې انسان لپاره شکر اړین دی او شکر و دې ته وایي چې په خوله ووایي چې شکر دی خدایه! بلکې حضرت علي کرم الله وجهه وایي: (من کثر شکره کثر خیره)

ژباړه: د چا چې شکر زیات وي د هغه خیر زیات وي.

هر هغه څوک چې د خیر کارونه زیات کوي، د هغه شکر زیات دی او دا انسان بیا هېڅکله د الله تعالی نافرماني نه کوي.

۳: د نفس بې وسي، خواخوږي او قرباني

کله چې یو انسان د صبح صادق څخه تر لمر لوېدو پورې د هر نعمت څخه منع وي، دا کار په خپله و انسان ته د پوره حوصلې او زغم درس ورکوي او دا حتمي خبره ده چې په ژوند کې انسان د هر ډول مشکلاتو او سختیو سره لاس او ګرېوان کېږي، کړاوونه به راځي، هجرت به کوي، زندان به راځي او داسې نور....

چې دا هر څه زغم ته پوره اړتیا لري، که چېرې یو څوک په خپل ژوند کې د زغم څښتن نه وي نو هغه انسان کله نا کله په خپلو کړنو پښېمانه وي او کله بالفرض په یو چا کې دا ماده نه وي نو روژه د زغم د ودې لپاره ښه میاشت ده؛ کله چې یو انسان وږی شي په دغه وخت کې نفس کمزوری کېږي او بې وسه شي په دې وخت کې انسان په طبیعي توګه له بل سره خواخوږي کوي او د پوره خواخوږۍ احساس په کې وده کوي، که چېرې هغه کمزوری او یا هم د کړاوونو په چرخاب کې را ګیر وي نو د هغه مشکلات حل کوي او په درد باندې یې ځان خبروي، د همکارۍ لاس ورکوي، چې د دې پایله دا

ص ۲

## د الله تعالی د مینې درک او احساس

لیکوال: مفتي وقایت الله (وقار)

د رسمیاتو او مادیاتو په اوسني توپان کې شاید دا درګاه بې ساري وي چې نه لکه د اوسنۍ نړۍ مروج رسمیات لري او نه هم د مادیاتو لاسپوڅي یې شاوخوا ته تاوېږي.

دا به نو وړه تشبیه وي چې وواېو، له زرګونه دربارونو غوره دی، په لکونو فضیلت لري او په کروړونو دروازې یې په وړاندې هېڅ دي، اصلاً له دغه درسره د نورو درونو پرتلنه عقلاً ممکنه نه ده، عرفا هم رد ده او شرعاً خو هسې هم ترې مونږ منع یو.

په زلمیتوب کې د ځوان لویه هیله نوی ژوند وي او دغه د نوي ژوند هیله ډېر زر پوره کېږي، کال دوه لا تېر نه وي چې د ماشوم پالنې روحیه یې په څپو شي او هغه بیا د پلارولۍ په امید وي، مګر یو وخت داسې راځي چې د خپل یوه ماشوم لپاره ډول ډول کارونو ته لاس اچوي، څو ماشوم یې وژغورل شي، وپالل شي او ښه رالوی شي، خو کله چې د ژوند د ځوانۍ په درشل همدغه ماشوم پښه کېږدي او هسې ترې کوم قدم ښویه شي؛ نو د هغه د خوږ پلار زړه ډېر زر موړ شي، چې په لسګونو کلونو انتظار یې ورته کړی وو او هغه خوږه مور چې د جهان په منځ کې د عاطفې او بې غرضه مینې مثال ګڼل کېږي، یو دم بدله شي او د خپل پروني خوږ ماشوم په لور بیا د مینې او عاطفې نظر نه کوي، بلکې نفرت ورسره اخلي... که ځوان ځېر شي او بیا خپل اصلي مزل ته وګرځي، نو څه موده بعد ورسره بېرته مور او پلار یو کېږي، مګر تر څه مودې پورې یې بیا هم د والدینو په زړونو د زړې ګناه ګرد پروت وي او ډېر کله د هغې په یاد زورېږي....

او که خدای مه کړه ځوان په بیا بیا توګه خپلو جرمونو ته مخه کوي، برابره خبره ده چې توبه کاږي او که نه، نو ډېر زر یوه داسې پړاو ته داخلېږي چې بیا د مور او پلار د عفوې

ص ۲

## من کمتر از آنم که کسی را دعوت کنم!

نویسنده: محمد بهرامی

یکی از دام های شیطان این است که برای مسلمان گنهکار میگوید: «تو کمتر و کوچکتر از آنی که کسی را دعوت کنی! اول خود را دعوت و اصلاح کن! اگر خود به گناه و معاصی آلوده باشی و ادعای دعوت و اصلاح هم داشته باشی، گرفتار نفاق شده ای!»

باید گفت که در حقیقت هر کسی که به امت محمد ﷺ منسوب باشد، از دعوت، گریزی ندارد.

الله متعال میفرماید:

{كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ} (سورة آل عمران: الاية ۱۱۰)

ترجمه: «شما (ای پیروان پیامبر!) بهترین امتی هستید که به سود انسان‌ها آفریده شده‌اید (مادامی که) امر به معروف و نهی از منکر مینمایید و به الله ﷻ ایمان دارید.»

الله متعال، این سخن را گفته است، با این که خوب می‌داند که در میان امت گنهکاران نیز هستند:

{ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ} ( سورة فاطر: الاية ۳۲)

ترجمه: «سپس کتاب (قرآن) را به بندگان برگزیده‌ی خود (یعنی امت محمدی ﷺ) عطا کردیم. برخی از آنان به خویشتن ستم میکنند، و گروهی از ایشان میانه روند، و دسته ای از ایشان در پرتو توفیقات الهی در انجام نیکی ها پیشتازند.»

از این دو آیت ها به نیکی دانسته می‌شود که فرزندان امت

ص ۲

## پر مسلمان د ملنډې وهلو څخه ځان ساتل

ترتیب کوونکی: عبدالله شهکار

هغه خبرې، ټوکې، مسخرې چې موخه یې د مسلمان شان او مقام ته توهین وي ناروا ګڼل کېږي؛ دا که ناوړه کلمات، بېهوده خبرې د ساعتیرې په پار یا په قصدي ډول وي د اسلام مبارک دین ترې منع کړې او مسلمانانو ته یې ترې د ډډه کولو سخت وعید راغلی دی.

نن سبا اکثره خلک داسې ټوکې او خبرې کوي چې پر دورواغو، د مسلمان پر توهین، ناوړه کارونو ته ترغیب، ښکنځلو او نورو بدو الفاظو ولاړې وي، چې دا ټولې د اسلام مبارک دین له چوکاټ څخه بهر دي.

مونږ په ټولنه کې د هغو خلکو شاهدان یو چې په خبرو کې ډېر تاوده راشي بیا یې خپلو خبرو ته پام نه وي چې څه وایي؛ د اسلام، قرآن کریم، د پیغمبر ﷺ د وارثانو پورې داسې ناروا ټوکې کوي چې مسلم عقل یې په ذکر کولو د

ص ۳

## نهادینه کردن ارزش صبر در وجود فرزندان امت

نویسنده: مژده رفیعی

یک مادر چگونه میتواند به شکل عملی ارزش صبر را در وجود فرزندانش نهادینه کند؟

به یاد داشته باش که مسیری هزار مایلی با یک قدم آغاز میشود و این یعنی اگر میخواهیم نسلی قوی و پایدار بسازیم، نسلی که بتواند در مقابل مصیبت‌هایی بزرگ بایستد پس باید در مقیاس‌هایی کوچکتر او را تمرین بدهیم.

در اینجا مواردی عملی ذکر خواهد شد که اثر عمیقی بر تربیت فرزندان دارند.

پسر دو ساله‌ات گلدانی را می شکند، دستپاچه نشو، صبر کن، آرام باش و با حکمت برخورد کن!

فرزندت بزرگ میشود، گلدان هم فراموش خواهد شد و

ص ۲

# د روژې نیولو...

کېږي چې روژه په حقیقت کې یو انسان لویې قرباني ته چمتو کوي په دې قرباني‌سره ولس او ټولنه د هوساینې پر تغر کینې، دا انسان ته د دنیا او آخرت ستره سوکالي او نېکمرغي ده.

۴: روژه زړه او روح صفا کوي

په روژه کې د انسان زړه او روح د ټول پلیتو کړنو څخه لرې کېږي نو ځکه روژه د زړه او روح د صفایي میاشت ده، د بدن غذا دا ده چې کله یو انسان خوراک وکړي او د روح غذا عبادت ده او د نفسي خواهشاتو څخه لرېوالي دی، چې د کال تر ټولو میاشتو په روژه کې د نفس تزکیه ښه صورت نیسي چې دا خپله جنت ته د دخول لاره او مسیر دی.

۵: روژه د جهنم لپاره سپر (ډال) دی

حدیث شریف کې راځي چې:

کل عمل ابن آدم یضاعف الحسنة عشرة امثالها الی سبعمائة ضعف قال الله عزوجل: الا الصوم، فانه لی و انا اجزی به، یدع شهوته و طعامه من اجلی، للصائم فرحتان: فرحة عند فطره، و فرحة عند لقاء ربه، ولخلوف فیه اطیب عندالله من ریح المسک [رواه مسلم، فی الصحیح المسلم، عن ابي هريرة، الصفحة او الرقم: ۱۱۵۱]

ژباړه: د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چې د هر عمل ثواب لس چنده څخه تر ۷۰۰ چنده پورې دی، او الله تعالی وایي چې روژه زما لپاره ده او زه یې اجر ورکوم او روژه د دوزخ لپاره سپر (ډال) دی.

٦: روژه یو عبادت او هر عبادت شکر دی

روژه عبادت دی او عبادت شکر وېستل دي چې دا یو نعمت د الله تعالی دی، روژه یو امانت ده د الله ﷻ له لوري چې مونږ ته راکړل شوي ده او اوس الله ﷻ مونږ په دې کې ازمايي چې آیا مونږ په دې امانت کې رښتیني یو او که خدای مه کړه خاینان؟ چې په دې امانت کې د خوراک، څښاک، جماع او نورو منع او بندیز دی او دې بندیز ټوله ورځ په بر کې نیولې ده، نو دا زمونږ کار دی چې د الله ﷻ په دې امانت کې باید څه وکړو؟ او څنګه یې سرته ورسوو؟ په دې امانت کې ټول بدن او نفس دواړه شامل دي.

۷: روژه انسان د حیوانیت څخه ملائیکو ته نږدې کوي

حیوانات یوازې خوراک، څښاک او نفسي خواهشات پوره کوي چې دا ځانګړتیاوې په انسان کې هم شتون لري نو په دې میاشت کې پر انسان باندې د الله ﷻ له لوري دا څېزونه بند شي چې په واقعیت کې انسان د حیوانیت څخه و ملائیکو ته نږدې کوي چې پایلې به یې دارا وځي چې عبادت به کوي، جائز کارونه به کوي او خپل رب او خالق ته به ځان نژدې کوي چې دا نو نفس د ځنځیرونو څخه خلاصېدل دي، کله چې یو څوک د نفس د غلامۍ څخه آزاد شو نو دا الله ﷻ ته نږدې کېږي او د نفس څخه په دې بېلوالی راځي چې خوراک، څښاک، او شهوت کنترول دي، علماء کرام، زاهدان، حکماء او روحانین وایي که یو څوک غواړي چې تألیف وکړي نو خوراک، څښاک او شهوت دې کم کړي، دا ځکه چې تألیف سپېڅلې دنده ده نو ځکه د نفس څخه لرې کېدل ضرور غواړي.

۸: روژه شهوت ضعیفه کوي

د روژې بل حکمت او فلسفه دا ده چې شهوت ضعیفه کوي، هغه ځوانان چې ودونه نه لري روژه ورته غوره درملنه ده تر څو شهوت یې کنترول شي، دا ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: عن ابن مسعود قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: یا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج فانه اغض للبصر و أحصن للفرج و من لم یستطع فعلیه بالصوم فانه له وجاء. [اخرجه البخاری کتاب ((الصوم)) ۱/۴۵٦ و مسلم کتاب النکاح ۱/٦۳۰، رقم: ۱۴۰۰]

ژباړه: د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ای د ځوانانو ټولنې! که تاسې توان ولرئ نو ودونه وکړئ او که تاسې توان نه لرئ د ودونو، نو روژې ونیسئ.

یوازې شهوت پوره کول دا هم د حیواناتو ځانګړتیا ده، او الله ﷻ غواړي چې د دې عبادت په وجه مونږ د حیواناتو د دې خاصیت څخه لرې کړي او خپل ځانته مو متوجه او نږدې کړي.

۹: روژه د فقیرانو او مسکینانو سره د خواخوږۍ میاشت ده

کله چې روژه ونیول شي، سړی وږی او تږی شي نو د انسان‌سره د نورو وږو تږو، مسکینانو، بې وزلو او فقیرانو احساس پیدا کېږي، د هغوی سره د خواخوږۍ مینه پیدا کېږي، هغو سره مرسته کوي، لاس ورغځوي او د ترحم مزی ورته اوږدوي، او که نس موړ وي نو بیا موړ د وږي په حال څه خبر دی؟ کله چې د محتاجو سره د همدردۍ فکر پیدا شو او وده یې وکړه نو عبادت ته یې خپله دماغ جوړېږي، حکماء وایي چې کله نس ډک شي نو عقل کډه وکړي، د انسان حکمت کار پرېږدي، او اعضاء یې سره سستې شي چې عبادت خپله پاتې کېږي او بل که نس ډک نه وي نو زړه صفاء وي فکر روښانه وي، او د الله ﷻ و ذکر ته انسان لېواله وي، او بیا انسان کوښښ کوي چې هر څه د عقل سلیم په رڼا کې ترسره کړي.

۱۰: په روژه کې عقل پر شهوت غلبه پیدا کوي

په روژه کې هغه شخص چې عقل یې پر شهوت باندې غلبه پیدا کوي علماء کرام ورته (خیر الناس) یعنې غوره د خلکو وایي، چې د دې سړي په سترګو کې حیاء وي، زړه یې د تزکیې په جال کې وي او د ټولو ګناهونو او جرایمو څخه په واټن کې وي، عبادت او ټول ښو او مشروع کړنو کې ورته خوږ خوند جوتیږي او محسوسیږي؛ د روح غذا یې بولي و بل لور ته د الله ﷻ د رحمت دروازې هم پر دې سړي خلاصېږي، دی به تل د برکتونو او فیوضاتو په ځاځکو کې پټ وي، چې دا څومره د ویاړ موقع او ځای دی.

۱۱: روژې ته ریاضة الروح او علاج النفس وایي

روژه روح ته ښکلا، ځلا او غذا ورکوي، نو ځکه روژې ته ریاضة الروح وایي، دا چې روژه کې ټولې کړنې د نفس خلاف دي نو ځکه روژې ته علاج النفس وایي، کله چې په یوه کال کې یوه میاشت روح ښاد شي او د نفس تزکیه وشي، نو د دې اغیزې تر ډېره پورې پاتې کېږي او که د کال په منځ کې بیا نفلي روژې ونیول شي دا خو نور علی نور کېږي په دې‌سره شهوت او نفس ته به دومره موقع نه وي چې انسان گمراه او د جهل د تیارو په ګرداب کې یې ډوب کړي، نو روژه نفس قبضه او قیضه کوي چې دا روح ته تقویه او هم وده ورکوي.

۱۲: روژه کې ټول الهي کتابونه نازل شوي دي

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم أُنزلت صحف إبراهيم أول ليلة من شهر رمضان، وأُنزلت التوراة لِسِتٍ مضت من رمضان، وأُنزل الإنجيل لثلاث عشرةَ مضت من رمضان، وأُنزل الزبور لثمان عشرة خلت من رمضان، وأُنزل القرآن لأربع وعشرين خلت من رمضان. [الجامع الصغير و زيادته برقم: ۲۳۷۷/ حسنه الألباني في "السلسلة الصحيحة" ۱۵۷۵.]

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د روژې پر لومړۍ نېټه پر حضرت ابراهیم علیه السلام صحیفې نازل شوي، د روژې پر شپږمه تورات شریف پر سیدنا حضرت موسی علیه السلام نازل شو، د روژې پر اتلسمه زبور پر سیدنا حضرت داؤد علیه السلام نازل شو، د روژې پر دیارلسمه انجیل پر سیدنا حضرت عیسی علیه السلام باندې نازل شو، د دې میاشتې پر څلرویشتمه باندې قرآنکریم د اووم آسمان څخه اول آسمان ته نازل شو.

# د الله تعالی د...

قلم د هغه په اړه خپل رنګ نه تویوي او د هغه د بخښنې عریضه بیا نه پاس کېږي، همداسې په بې لارۍ پاتې شي، یا په ځوان د اجل داعي رامخکې شي او یا هم پلار او مور د ژوند پور پرې کړي او په ډېره نا امیدۍ د خپلو امېدونو ټولګه په دنیا کې په داسې حال کې پرېږدي چې هغه له دوی او دوی له هغه ناراضه وي.

... او زمونږ په ټولنه کې خو د والدینو له خوا (عاق) مشهور دی.

په انساني دنیا کې دا کار ډېر دی او دلته چې کوم مثال ذکر شو، دا نو د هغه تر ټولو نږدې رابطې دی، په نړۍ کې به د مور او پلار له اړیکې زیاته نږدې اړیکه بله نه وي، کله چې له دوی‌سره د بد تعامل نتیجه ډېره سپکوونکې ده، نو له نوروو ګروسره خو په طریق اولی ډېره بده او زوروونکې ده.

زمونږ په اوسني جهان کې نن یوه عرفي خبره د رسمیاتو هم ده، که څومره ضروري کار دې هم وي، خو باید په رسمیاتو کې د بنده ګانو در ته ورشې او هغوی که دې د مور بچیان هم شي، خو چې رسمیات خلاص وي، یا به یې اداره کې ونه مومې او که موجود وي بیا به هم تاته په لسګونه بهانې وایي او کار به دې بلې ورځ ته ځنډوي... هغوی خو لا ډېر دي چې له رسمیاتو مخکې یې ادارو ته قلفونه اچولي وي.

او که لږ دا خبره نوره هم واضحه کړو، کېدای شي د وررور نمونه یې ښه وي، په عامو خبرو کې به تاسو له ډېرو اورېدلي وي، چې ته مې ورور یې، وروره، څنګه یې؟ د ورور په څېر راباندې ګران یې، د ورور مینه راکوې او... مګر که له دې تشریفاتي خبرو ور تېر شو او د حقیقي ورورۍ ننداره وکړو، هغه هم ډېر زر تسلیمي کوي او په ډېرو وړو خنډونو درېدای او حتی ختمېدای شي.

تاسو وګورئ او شاید ډېر مو لیدلي وي چې دوه سکه ورونه چې په یوه زانګو رالوی شوي وي او د یوه مور او پلار اولاد وي، کله چې یو پکې بې وزله او بل بډای شي، نو د دواړو ورورۍ تر هغې پورې ټینګه پاتې کېږي چې تر څو پورې دغه غریب له شتمن څخه څه غوښتې نه وي، حکماء او روحانین وایي که یو څوک غواړي چې تألیف وکړي نو خوراک، څښاک او شهوت دې کم کړي، دا ځکه چې تألیف سپېڅلې دنده ده نو ځکه د نفس څخه لرې کېدل ضرور غواړي.

مګر دغه تر ټولو خوږه او نږدې اړیکه هم چې دوه درې ځلې پکې د غوښتنو وار راشي، ډېره زر پیکه کېږي او آن د دې بې شمېره بېلګې شته چې په دښمنۍ بدله شوې ده.

دا د بشري جهان د کورنۍ رابطې تر ټولو نږدې نمونې دي، چې که له دومره نږدېوالي سره‌سره هم څوک پکې په تکراري شکل اشتباهات کوي او یا په بیا بیا توګه ترې مطالبې لري، نو ګناهونه یې نه بخښل کېږي او غوښتنې یې په ستغ ځواب رد کېږي، مګر له دې ټولو درونو ور آخوا یو بل در شته چې داسې نه دی.

دا در یو ځل نه، دوه ځل نه، درې ځل نه، بلکې د لسګونه، سلګونه، زرګونه، کروړونه، بلکې بې شمېره ځلې ورتګ حوصله لري او د همدغومره وار غوښتنو وس او ځای پکې موجود دی، دا در له اته تر څلورو بجو نه وي، بلکې د ژوند هره شېبه د دې رسمیات دي او بالکل پکې درخصتۍ ورځ نه شته، د دې در دروازې بندېدل خو ناشوني دي.

تر هغې پورې چې یو مکلف بنده په زوره په ځان دا در رابند نه کړي، دا در ورپسې نه بندېږي... او د دې در خاوند یو عادي کس نه بلکې د پاچاهانو پاچا او د پاچاهانو خالق دی.

د الهي در دروازه خلاصه ده او هر وار، هره شېبه د جوړې اعلانونه خپروي، هره ثانیه په حقیقت کې د دغه در استازې ده چې د حال او قال په ژبه له دغه دره ټولو مرورو ته د پخلاینې آواز کوي او ورته وایي چې د مینې او رحمت دغه دروازه یوازې ستاسو په انتظار لا هم خلاصه ده او لا هم تاسو ته د روغې فرصت شته.

د دغه در مالک دومره د حوصلې خاوند دی چې لاپخوا یې ویلي وه چې که د چا ګناهونه دومره زیات شي چې د ځمکې ټول مخ پرې راګیر کړي؛ خو که دغه در ته ودرېد او یو وار یې هم وټکاوه؛ نو ډېر زر به ورته خلاص شي او ډېر زر به له رحمتونو برخمن شي.

د دغه در خاوند د خپلې مهربانۍ او لطف له مخې په ځان رحمت لازم کړی دی او په خپل عرش یې لیکلي دي چې زما رحمت زما په غضب غالب او مخکې دی.

هر څه په حقیقت کې په همدغه در کې دي، خو کاش چې بشر دغه در هېر کړی نه وای، ربه، ستا د در لېواله یو، ته مو په خپله مینه کې ونغاړه او ته مو د دنیا او آخرت مل شې.

# من کمتر از آنم....

اسلامی، در هر مرتبهٔ که از این سه مرتبه فوق که در آیت مبارک ذکر شده است بگنجند، مأمور و ملزم به دعوت امر به معروف و نهی از منکر هستند.

حتی میتوان گفت، مسلمانان گنهکار و خطاکار از دیگران به دعوت نیازمندتر اند. چرا که: {إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ} (سورة هود: الاية ١١٤)

ترجمه: «نیکی ها، بدی ها را محو و نابود می کند.»

مهم این است که دعوتگر در دعوت خود صادق و مخلص باشد و به چیزی که دیگران را دعوت می کند، شناخت و معرفت داشته باشد.

دعوت خود وسیله‌ای برای اصلاح خود دعوتگر است و باعث می‌شود تا دعوتگر از گناه‌ها و معاصی دست بکشد و به خودهمنوایی برسد و از نعمت و لذت احترام به خود بهره‌مند گردد. الله ﷻ شما را به برکت دعوت مخلصانهٔ تان یاری و یاوری می کند و پاکیزه می گرداند.

من خود در گذشته کوتاهی های داشتم، اما پس از آن که به دعوت و اصلاح گری روی آوردم، آهسته آهسته، به لطف الله ﷻ از آن ها دور و برکنار شدم. آن زمان کوتاهی‌ها و خطاهای کوچک بر من چندان سنگین تمام نمی شد. اما از روزگاری که پای در کارزار دعوت گذاشتم، کوتاهی ها و خطاهای کوچک خود را لنگرها و زنجیرهای سخت و سنگینی می بینم که مرا از گردون گردی و سپهرپیمایی باز می دارد و از پرواز مانع می شود و این باعث شد تا به فضل الله ﷻ از آن ها دوری گزینم. هرچند هنوز هم کوتاهی هایی دارم و از الله ﷻ می خواهم ما را به اصلاح و تقوای حقیقی رهنمون شود.

برادر و خواهر عزیز! مبادا در دام شیطان بیفتی! اعمال منفی خود را کنار بگذارید و هیچ گاه با خود نگویید: «چون من شایستگی دعوت و اصلاح گری را ندارم.»

آیا می توان کوتاهی را با کوتاهی دیگر جبران کرد؟! هرگز! پس با دعوت دیگران به الله ﷻ تقرب یابید و از او تعالی بخواهید شما را در جبران کوتاهی ها و نقایص تان همکاری فرماید.

# نهادینه کردن ارزش...

تنها چیزی که باقی میماند اثر صبوری توست که اکنون در رفتار فرزندت می بینی.

يقول أنس ابن مالك رضي الله عنه: ولقد خدمتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم عشر سنين، فما قال لي قط: أف، ولا قال لشيء فعلتُه: لِمَ فعلتَه؟ ولا لشيءٍ لم أفعله: ألا فعلتَ كذا؟)؛ [متفق عليه]

ترجمه: أنس ابن مالک رضی الله عنه میگوید: «ده سال به رسول الله ﷺ خدمت کردم و به الله قسم حتی یک بار هم به من اُف نگفتند و هرگز در مورد کاری که انجام داده بودم نگفتند چرا چنین کردی و به خاطر آنچه نکرده بودم نگفتند اگر چنان میکردی.»

فرزندت بیمار میشود؛ فرصت را غنیمت بشمار تا در این لحظه به جای گریه و زاری و غم و اندوه، روح صبر و چشم داشتن به اجر الهی را در وجودش بکاری و حدیث انس بن مالک رضی الله عنه را به او یادآوری کن که از پیامبر ﷺ روایت میکند که فرمودند: «بزرگی پاداش در بزرگی بلاست و الله تعالی هرگاه قومی را دوست داشته باشد آنها را مبتلا میکند و هر که راضی باشد از او راضی خواهد شد و هر که خشمگین شود بر او خشم میگیرد.»

الله ﷻ بیمار را شفا میدهد و درد فراموش میشود و فرزندت بزرگ خواهد شد در حالی که اجر صبرش باقی مانده است، صبری که زینت یک نسل است!

عن أنس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يؤتى بأنعم أهل الدنيا من أهل النار يوم القيامة فيصبغ في النار صبغة ثم يقال يا ابن آدم هل رأيت خيرا قط هل مر بك نعيم قط فيقول لا والله يارب ويؤتى بأشد الناس بؤسا في الدنيا من أهل الجنة فيصبغ صبغة في الجنة فيقال له يا ابن آدم هل رأيت بؤسا قط هل مر بك شدة قط فيقول لا والله يارب ما مر بي بؤس قط ولا رأيت شدة قط. [شرح النووي على مسلم، كتاب صفة القيامة والجنة والنار، باب صبغ أنعم أهل الدنيا في النار وصبغ أشدهم بؤسا في الجنة]

ترجمه: از أنس رضی الله عنه روایت است که رسول الله ﷺ فرمودند: «روز قیامت برخوردارترین شخص دنیا را که از اهل آتش است میاورند و یک شمه از آتش را به او میچشانند و آنگاه به او گفته میشود: ای فرزند آدم! آیا [تا به حال] خیری دیده‌ای و نعمتی به تو رسیده است؟ میگوید: نه والله یارب! و دردمندترین شخصی که در دنیا بود و اکنون اهل جنت است را میاورند و شمه ای از جنت را به او می چشانند و آنگاه به او میگویند: ای فرزند آدم آیا [تا به حال] دردی داشته ای و سختی ای به تو رسیده است؟ میگوید: نه، والله که تا به حال نه هرگز دردی داشته ام و نه سختی دیده ام!»

فرزندت در کاری مثلاً در درس‌های مدرسه یا حتی در پُختن کیک شکست میخورد، در اینجا، مهندسی که در کار خود ماهر است میداند چه موقع و چه طور باید دخالت کند؟ او رفتار شخص را اصلاح میکند و یادآور میشود که کار تحت نظر ملک الملوک قرار دارد و بنابر این با مرهم صبر، درد زخم را مداوا میکند.

کودک بزرگ میشود و هر بار که شکست بخورد از حادثهٔ آن روز چیزی را به یاد نمی آورد:

لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ [سورة الحديد: الاية ۲۳]

ترجمه: تا بر آنچه از دست شما رفته اندوهگین نشوید و به [سبب] آنچه به شما داده است شادمانی نکنید و خدا هیچ خودپسند فخرفروشی را دوست ندارد.

می بینی که صبر فرزندت به صبر تو بستگی دارد.

پس اولین قدم برای این که فرزندی صبور تربیت کنی این است که خودت صابر باشی.

برای چیزی خشمگین شو که سبب خشم الله تعالی میشود نه برای چیزی که خلاف هوا و هوست است و این سخن ام المؤمنین عایشه رضی الله عنها را به یاد بیاور که در مورد پیامبر ﷺ گفت: عائشة رضي الله عنها تحكي عن حال النبي ﷺ: "ماضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم بيده خادما له قط، ولا امرأة، ولا ضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم بيده شيئا قط، إلا أن يجاهد في سبيل الله، ولا خير بين أمرين قط، إلا كان أحبهما إليه أيسرهما، حتى يكون إثما، فإذا كان إثما كان أبعد الناس من الإثم، ولا انتقم لنفسه من شيء يؤتى إليه، حتى تنتهك حرمات الله عز وجل." [متفق عليه]

ترجمه: «رسول الله ﷺ هرگز با دستانشان خدمتکاری را نزدند و نه هیچ زنی را و نه هیچ چیز دیگری را مگر برای جهاد در راه الله ﷻ و هرگاه بین دو کار مختار بودند، کار آسانتر نزد شان محبوبتر بود مگر این که در آن گناهی باشد که اگر در کاری گناهی وجود داشت ایشان دورترین شخص از گناه بودند و هیچگاه به خاطر خود شان انتقام نگرفتند مگر برای هتک حرمتی از حرمت‌های الله عزوجل.»

# پر مسلمان د...

شرم احساس کوي، داسې وګړي دې خبر شي چې دوی پر دې کارونو خپل ځان د کفر پولو ته نږدې کوي.

هغه ټوکې چې د مسلمان شخصيت وژنه، درواغ، دوګړو خندول او خپل عادت ګرځول يې موخه نه وي روا دي؛ د مسخرو او ټوکو ترمنځ ښکاره توپير شته دی.

الله تعالی په قرآن کريم کې مسلمانانو ته سپارښتنه کوي چې يو پر بل باندې مسخرې او ملنډې مه وهئ ځکه د ايمان راوړلو څخه وروسته فسق نامه بده ده او ترسره کوونکي يې ظالمان ياد کړي دي:

يا أَيُّهَا الَّذينَ آمَنُوا لا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسى‏ أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ وَ لا نِساءٌ مِنْ نِساءٍ عَسى‏ أَنْ يَكُنَّ خَيْراً مِنْهُنَّ وَ لا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَ لا تَنابَزُوا بِالْأَلْقابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإيمانِ وَ مَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ. [سورة الحجرات: الاية ۱۱]

يعنې اې مؤمنانو! نه دې نارينه پر نورو نارينه و ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي او نه دې ښځې په نورو ښځو ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي. په خپلو منځو کې يو د بل عيب مه لټوئ، او مه يو بل په بدو نومونو سره يادوئ له ايمان راوړلو وروسته په فسق کې نوم پيدا کول ډېره بده خبره ده کوم کسان چې دغه چار چلند پرې نږدي (توبه ونه باسي)، همغوي ظالمان دي.

مسخرې کول د بې دينه خلکو کار دی، د نوح عليه السلام قوم به يې د کشتۍ په جوړولو پورې خندل او مسخرې به يې کولې: وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ [سورة هود: الاية ۳۸]

ژباړه: او هغه (نوح عليه السلام) بېړۍ جوړوله په داسې حال کې چې کله به هم پر ده باندې د ده له قومه څه مشران تېريدل نو په ده باندې به يې مسخرې کولې. هغه وويل که تاسو په مونږ پورې مسخرې کوئ نو بې شکه مونږ به هم پر تاسو پورې مسخرې وکړو لکه څرنګه چې تاسې مسخرې کوئ.

صحابه رضي الله عنهم به د مسخرو څخه زيات ځان ساتلو، چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايلي دي: وعن عبد الله بن مسعود: البلاء موكل بالقول، لو سخرت من كلب لخشيت أن أحول كلبا (. بلاء په وينا پورې تړلې ده، که چېرې زه په سپي پورې مسخره وکړم، زه وېرېږم چې له مانه سپی جوړ شي. [تفسير القرطبي ۱۶/۳۲۵]

د مسخرو او ټوکو تاوانونه

۱. مسخرې او ټوکې کول د سړي عزت او وقار له منځه وړي.

۲. ټوکې کول سپکاوی او ذلت رامنځته کوي، عظمت او جلال ورسره له منځه ځي.

۳. ټوکې او په يو چا مسخرې کول د دښمنۍ تخم کري.

۴. ټوکې کوونکی شخص خپل اعتبار په ټولنه کې له منځه وړي.

۵. پر يو چا باندې ټوکې کول په ټولنه کې د حسد او کينې پر څېر ناوړه ناروغۍ رامنځته کوي.

# رئیس امربالمعروف ولایت سرپل در مراسم فراغت و دستار بندی حافظان قرآن عظیم الشان‌شرکت نمود

مولوی محمد مسعود حنفی رئیس امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت سرپل در مراسم فراغت ده ها تن از حافظان قرآنکریم دارالعلوم هاشمیه در این ولایت‌شرکت نمود.

حنفی با حضور داشت مسوولین نظامی و ملکی و صدها تن از علمای دین، بزرگان قومی و جوانان دستار فضیلت را بر سر حفاظ تازه فارغ شده گذاشت و طی بیاناتی پیرامون موضوع گفت: اکنون بر حافظان قرآنکریم دستار فضیلت بسته شد و تاکید کرد این دستار مسئولیت است و باید فارغین، علوم فراگرفته شده را به سایر مردم برسانند.

همچنان رئیس امر بالمعروف، نهی عن المنکر وسمع شکایات این ولایت خطاب به علماء و قاریان گفت: علماء و قاریان در تطبیق معروفات و نهی از منکرات در سطح ولایت و ولسوالی ها محتسبین این اداره را همکاری نمایند و پیام های قرآنی و احادیث حضرت محمد ﷺ را با اخلاق نیک و روش پسندیده به مردم برسانند؛ زیرا علمای دین وارثان پیامبران ﷺ می‌باشند.

رئیس امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات سرپل باشندگان این ولایت را تشویق نمود، که در ماه مبارک رمضان در عبادات خود غفلت نکرده و درختم های قرآنکریم پابند باشند، تا مورد رحمت و مغفرت الله ﷻ قرار گیرند.

# د میدان وردګ ولایت محتسبینو د دوو کورنیو ترمنځ ۴۵ کلنه دښمني په دوستۍ بدله کړه

د میدان وردګ ولایت د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکايتونو اورېدلو رياست محتسبينو د ياد ولايت د مرکز اړوند ابراهيم خېلو په کلي کې يوه ۴۵ کلنه دښمني چې دوه کسان هم پکې وژل شوي وو، د يادې محلې د ديني عالمانو او قومي مخورو په مرسته له ډېرو هڅو وروسته په دوستۍ بدله کړه.

دغه دښمني چې له نن څخه ۴۵ کاله وړاندې د دوو کورنيو ترمنځ د ځمکې په سر راپورته شوې وه او دوه کسان هم پکې وژل شوي وو، تر ننه پاتې وه چې وروسته له ډېرو هڅو په دوستۍ بدله شوه.

محتسبينو دواړه لوريو ته د دښمنۍ پر بدو پايلو خبرې وکړې او له دواړو لوريو وغوښتل چې يو بل ته له بديو تېر شي او بخښنه وکړي.

دواړو لوريو د امر بالمعروف له محتسبينو، ديني عالمانو او قومي مخورو مننه وکړه چې د دوی ترمنځ يې د سولې لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې او ژمنه يې وکړه چې وروسته له دې به د ورونو په څېر ژوند کوي.

# بررسی فعالیت های چند مرکز صحی توسط محتسبین در شهر کابل

محتسبین شهری وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در ولایت کابل مطابق به فعالیت های اصلاحی روزانه شان از ۴۸ شفاخانه و کلینیک صحی باز دید نموده و درنشستی با مسئولین و داکتران، پیرامون تطبیق و رعایت احکام شرعی توصیه های لازم نمودند.

همچنان در این دیدار محتسبین ریاست شهری وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر ولایت کابل ضمن تأکید برخاتمه بخشیدن به نسخه های مبهم، پیرامون اصلاح سیرت و صورت کارمندان بخش صحی طبق سنت نبوی ﷺ، ادای نمازهای پنج گانه در جماعت، رعایت حجاب و اخلاق اسلامی؛ با پرسونل صحی و مریض داران گفتگو نمودند.

محتسبین از مسئولان نهاد های عرضه خدمات صحی در این ولایت خواستند که برای تمام داکتران در این ولایت آگاهی دهند تا مسئولیت های سپرده شده خویش را به شکل مسلکی با در نظرداشت احکام‌شرعی انجام داده و از نسخه نویسی مبهم و انحصاری که خلاف مسلک طبابت و شریعت اسلامی می‌باشد، پرهیز کنند.

با این حال رؤسای شفاخانه ها و کلینک های صحی از تشریف آوری محتسبین وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ابراز خرسندی کرده و تعهد همکاری نمودند.

# بانوی مسلمان و...

حکمت، تدبیر، شجاعت و سوز دل سرنوشت بزرگترین دشمنان اسلام را تغییر دهند. بنابرین در شکوفایی و به کار بستن محبت های الهی که به شما عنایت شده از هیچ کوششی دریغ نورزید.

جهاد از پایه های اساسی دین مبین اسلام است. رسول اکرم ﷺ از جهاد به «نوک قلعه اسلام» تعبیر کرده است.

رسول اکرم ﷺ در حدیثی اسلام را به یک ساختمان با شکوه تشبیه می کند، سپس ارکان و ستون های آن را بر می شمارد و در پایان می فرماید: نقطهٔ اوج و بالاترین برجِ آن ساختمان جهاد است. یعنی عزت و شکوه و عظمت مسلمانان در گرو جهاد است.

دو نوع جهاد داریم: یکی همان جهادی که امروز مردان وزنان فلسطینی در سخت ترین شرایط ممکن آنرا انجام می دهند. جان، مال و زندگی شان را در طَبق اخلاص گذاشته اند بازهم فریاد می زنند «یاربِّ خُذ مِن أموالِنا وَ أولادِنا وَ دمئنا مَا یُرضِیکَ عَنّا» پروردگارا: از اموال و اولاد و خون های ما آن قدر بگیر که تو را از ما خوشنود کند. انگار به زبان حال می گویند:

تا خیال دوست در اسرار ماست
چاکری جان سپاری کارِ ماست
بر خط و فرمان او سر می نهیم
جانِ شیرین را گروگان می دهیم

نوع دیگری جهادِ علمی، فکری و دَعَوتی است. در قرآن کریم هر جا یادی از جهاد با شمشیر است. نامی از جهاد علمی، فکری و دَعَوتی است. چنان که الله متعال خطاب به رسول اکرم ﷺ می فرمایند: «وَجاهِدهم بِهِ جهاداً کبیراً» به اتفاق همهٔ مفسرین مراد از ضمیر «بِه» در این آیت «قرآن کریم» است؛ یعنی با پیام های قرآنی به مصاف کافران برو و با این کتاب مقدس با آنان به جهاد فکری و فرهنگی بپرداز.

این آیة در مکهٔ مکرمه نازل شد رسول اکرم ﷺ و یارانش مأمور به جنگ نظامی در این مکان مقدس نبودند جهاد اکبر آنان در مکه دعوت و تبلیغ بود. الله متعال جهاد فکری و تبلیغی را به وسیله پیام های قرآنی به جهاد کبیر عنوان نمود؛ که با قرآن و آموزه هایش نسلی مجاهد و جان برکف تربیت می شود. جوانانی که امروز در غزه در برابر مکبرین و ظالم ترین رژیم دنیا استاده اند و شوکت او را در هم شکسته اند. همه آنان از حافظان و نسل مجاهد می باشد.

با جهاد علمی، فرهنگی و تبلیغی ارزش های ناب اخلاقی در جامعه رشد می کند. نهضت علمی، فکری و معنوی پدید می آید و به جای فتحِ جسم ها، دل ها نیز فتح می شوند. در جهاد فکری و تبلیغی ذهن و ضمیر انسان ها تسخیر می شود.

**« یا رب این قافله را لطف ازل بدرقه باد »**

# د امربالمعروف، نهي عن...

همدې اساس مو له تاسو غوښتنه ده چې د تېر په څېر په اړوندو برخو کې خپله همکاري له موږ سره جاري وساتئ.

دغه راز ښاغلي محمدي زياته کړه؛ د اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د امر بالمعروف وزارت په وړاندې که کوم غلط تبليغات کيږي د هغوی مخنيوی او پر وړاندې يې مبارزه زموږ او ستاسو ګډه مسؤوليت دی چې بايد ترسره يې کړو.

همدارنګه په دغې ناسته کې د ياد وزارت د شکايتونو اورېدلو معين هم د شکايتونو د حل او په دې برخه کې د دې وزارت د هلو ځلو او لاسته راوړنو په اړه ګډونوالو ته وينا وکړه.

د غونډې په جريان کې د اتحاديو رئيسانو او غړو په خپلو ويناوو کې د امر بالمعروف وزارت له رهبرۍ څخه د منني تر څنګ زياته کړه: موږ له اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د امر بالمعروف وزارت فعاليتونه ستايو او د داسې غونډو دائرول د دې وزارت يو ابتکار بولو او په وينا يې د ملت غوښتنه همدا وه چې په هېواد کې امن او اسلامي نظام حاکم وي، چې لله الحمد د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې امنيت تأمين او د هرې ناروا کړنې مخه نيول شوې ده.

د يادلو ده چې د ناستې په پای کې راغلو د اتحاديو مشرانو خپلې غوښتنې او نظرونه د وزارت له مسؤولينو سره شريک کړل، چې د مسؤولينو له لوري ورته په اړوندو برخو کې د چټکو اقداماتو او د حل په موخه تر مسؤولو چارواکو درسولو ډاډ ورکړل شو.

ياده غونډه د دې وزارت د نظامي معين شيخ سعيد احمد شهيدخېل په دعايې سره پای ته ورسېده.

# امامان مساجد و خطبای کرام در ماه مبارک رمضان دروس احکام اسلامی برگزار نمایند

مسئولان ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت غور طی نشستی به تمام خطباء و ملا امامان مساجد توصیه نمود در ایام ماه مبارک رمضان برای مردم برنامه های یاد گیری دروس دینی راه اندازی نموده برای مقتدیان پیرامون احکام اسلامی آگاهی دهی نمایند.

الحاج مولوی گل آقا فاروق رئیس امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات این ولایت در نشست که در آن محتسبین، علمای کرام، خطبای مساجد و ملا امان حضور داشت؛ گفت: علماء وارثین پیامبران بوده دررساندن احکام اسلامی، امر به معروفات و نهی منکرات سهم خویش را ادا نموده و با محتسبین همکاری نمایند.

در اخیر رئیس امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات غور؛ مواد درسی که در آن احکام اسلامی و ضروریات دینی مسلمان بیان گردیده است به خطباء و امامان مساجد توزیع نمود و نیز به آنان توصیه نمود که از محتویات این مواد درسی به مقتدیان خویش به شکل موثر آگاهی دهی نمایند.

خطباء و امامان مساجد از این ابتکار ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکرو سمع شکایات غور استقبال نموده و بر ادامه همکاری های شان تعهد نمودند.

د امتیاز خاوند:
د افغانستان اسلامي امارت د امربالمعروف،
نهې عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت

د اړیکو شمیرې
۰۲۰۲۹۲۹۱۲۳
۰۷۷۷۱۲۸۰۲۸



مرکز: د امربالمعروف، نهې عن المنکر
او شکایتونو اورېدلو وزارت - دارالامان عمومی سړک
کابل - افغانستان

Islahul Ummah Monthly

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۳ هجري شمسي - ۲۰۲۴ میلادي | د چاپ نېټه: رمضان المبارک - کال ۱۴۴۵ هجري قمري | دوهمه ګڼه


# بانوی مسلمان و فریضه جهاد علمی، فرهنگی، و عملی

نویسنده: مولوی محمد عیسی بدخشانی

اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِيْنَ وَالعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْن وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ اَشْرَفِ اْلأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ سَيِّدِنَا وَ مَوْلَنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَىٰ اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ, اَمَّا بَعْدُ:

خواهرانی که به فریضهٔ امربالمعروف، نهی عن المنکر اهتمام می ورزند در واقع سهمی از آیت «كُنتم خَير امة اخرِجت لِلناسِ تأمرُونَ بالمعرُوفِ وتنهون عَن المنكر» برای خود شان بر گرفته اند. در پرتو این آیت، معیار برتری این امت در امر بالمعروف، و نهی عن المنکر است. اگر این امت، فریضه امربالمعروف و نهی عن المنکر را ترک کند، هیچ برتری بر امت و ادیان گذشته ندارد. در جوامع که فریضه امربالمعروف اداء نمی شود، حرمت ها از بین رفته است، بی حیایی و فحشا حاکم شده است، سرقت و نا امنی امانِ مردم را برهم زده است.

فعالیت های دعوتی و تبلیغی خواهران قدمتی به درازنای تاریخ پر افتخار اسلام عزیز دارد. حکایت های آموزندهٔ حضرت سمیه و حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنهما در مسیر دعوت اسلام روشن تر از روز است. حکایت اسلام آوردن امیرالمؤمنین عمربن الخطاب را بار ها شنیده اید که با تقدیرش با تلاوت قرآن کریم و با موضع گیری داعیانه و حکیمانهٔ خواهر محترمه اش دگرگون می شود. و کار نامه پر برگ و پرباری از خود برای جهانیان به ارمغان می گذارد. علامه اقبال لاهوری رحمه الله با اشاره به همین داستان می سراید:

نمی دانی که سوز قرأت تو
دگرگون کرد تقدیر عمر را

الله تعالی به زنان چنین نعمت و محبتی عطا کرده است که توانسته اند با دعوتی پر

ص ۳

# لاندې کسانو سره بحثونه او مرکې مه کوئ!

مولوي نورالحق مظهري

۱ ـ له متعصب انسان سره بحث او مرکه مه کوئ؛ ځکه چې متعصب انسان د تعصب په سبب د حق د منلو څخه منکر، د لیدلو څخه یې ړوند، د ویلو څخه یې ګونګی او د اورېدلو څخه یې کوڼ دی؛ متعصب انسان ستا په وړاندې د بدیهیاتو څخه هم انکار کوي او ستا هر ډول مثبتو کړنو ته د منفي په سترګه ګوري.

۲ـ له بد ژبي انسان سره بحث مه کوئ؛ ځکه چې هغه په هره خبره کې تاسې ته سپکې خبرې کوي، چې په نتیجه کې ممکن ستاسې احساسات را وپارېږي او بحث په لانجه بدل شي او یا هم ممکن ستاسې عزت او آبرو ورسره لوټ شي.

۳ـ له منفي ګرا یا منفي لیدلوري والا انسان سره بحث مه کوئ؛ ځکه چې هغه مو د منفي خوا ته کشوي او تاسې ته ستاسې په ثابته پالیسۍ کې شکونه پیدا کوي او ستاسې اعتماد بالنفس یا په ځان باور له منځه وړي.

۴ـ له کم علمه انسان سره بحث مه کوئ؛ ځکه چې کم علمه انسان ستاسې د علم او پوهې په ارزښت نه پوهېږي او نه هم ستاسې دلائل درک کولای شي.

۵ـ له هغه چاسره بحث مه کوئ چې سیاست د دین څخه جدا بولي؛ ځکه دا کس سیکولر دی او یا داسې جاهل دی چې د سیاست او دین په اصلي معنی نه پوهېږي، چې په دواړو صورتونو کې د بحث اهلیت، د خبرو ارزښت او د هدایت احتمال نه لري.

٦ـ له عنادي او ضدي انسان سره بحث مه کوئ؛ ځکه چې هغه له مخکې څخه لا تاسې ملامت بولي او ستاسې پر خبره غوږ نه نیسي ـ، ځکه هغه ستاسې شخصیت نه مني نو علمیت او پوهه به دې څنګه ومني؟

۷ـ له سرتمبه انسان سره بحث مه کوئ؛ ځکه چې د هغه دماغ ستاسې د خبرو منلو ته آمادګي نه لري او زړه ته یې ستاسې هیڅ خبره نه تېرېږي، که څه هم پوره حق خبره وي.

۹ـ له ډېر ساده انسان سره بحث مه کوئ؛ ځکه چې هغه خپلواک فکر نه لري، بلکې ستاسې د خبرې وزن د نورو خلکو په خبرو کېویني.

۱۰ ـ له غیر مشهور اهل باطل سره بحث مه کوئ؛ ځکه چې هغه غواړي ستاسې سره په بحث کولو ځان مشهور کړي او خپل پلویان ډېر کړي.

# په ټولنیز ژوند کې ناوړه عادتونه

لیکوال: مفتي عبدالقهار خالد زرنجوي

دېرش هغه عادتونه چې په ټولنیز ژوند کې ناخوښه/ناپسنده دي او په پرېښودلو سره یې کولای شو په ټولنه کې ځانونه محبوب کړو.

۱ـ یو شخص ته زیات کتل بالخصوص د ډوډۍ پر وخت.
۲ـ په ډکې خولې سره خبرې کول.
۳ـ د بل کس د خبرو منځ ته ورولېدل او د هغه خبرې غوڅول.
٤ـ په مجلس کې خپل ځان پوه او هوښیار ښودل.
۵ـ بغیر له سوچ او فکره خبرې کول.
٦ـ په مجلس کې د روغبړ په وخت کلکه غېږه ورکول یا بېخې یو محترم شخص ته نه ولاړېدل.
۷ـ په مېلمستیا کې بیخې زیات خوراک کول چې د خلکو ورته پام شي.
۸ـ د خلکو مبایل ته سر ښکته کول او ورته کتل.
۹ـ مجلس کې له کوم شخص سره یا ټلیفون باندې پټې پټې خبرې کول.
۱۰ـ په مجلس کې که یو شخص د یو شي طلب وکړي او موږ یې ور وغورځوو.
۱۱ـ په مجلس کې ژاولې ژول، ټکه ارۍ ترې وېستل او یا پوکانۍ کول.
۱۲ـ مجلس کې په ټلیفون باندې ځان ډېر بوختول.
۱۳ـ خپل د کور د سامانونو یا وسایلو تعریفول کوم چې مو نوي اخیستي دي.
١٤ـ په مجلس کې د غاښونو پاکول او په پزه کې ګوتې وهل.
۱۵ـ په مجلس کې د جانب مقابل د باورونو توهېنول او پرې ریشخند وهل.
۱٦ـ په مجلس کې یو شخص ته د هغه په کوم عیب باندې کنایې کول یا طعنه ورکول.
۱۷ـ په نوبت نیولو کې چالاکي کول؛ په هغه صورت کې چې تر تاسو نور خلک مخکې وي، لکه: په نانوایۍ، رستورانت او یا دولتي شعبو کې.
۱۸ـ په عمومي لارو یا پاکو ځمکو باندې د ناپاکو او اضافي څیزونو غورځول.
۱۹ـ په مېلمستیاوو او مراسمونو کې د نامناسبو کالیو اغوستل.
۲۰ـ د خلکو په مشکل او یا نیمګړتیا پورې خندل.
۲۱ـ د خبرو پر وخت د بدو الفاظو کارول/ویل.
۲۲ـ د مخاطب خبرو ته غوږ نه نیول.
۲۳ـ په مجلس کې د کور مشکلات بیانول، هغه چې د کور ودانۍ او یا بچیانو سره وي.
٢٤ـ په مجلس کې د سګرېټو څکول.
۲۵ـ په مجلس کې بېخي چوپ کیناستل او یا هم نورو ته د خبرو کولو وخت نه ورکول.
۲٦ـ د خلکو په لهجو او خبرو باندې مسخرې کول.
۲۷ـ په روغبړ کولو کې افراط او تفریط کول.
۲۸ـ د غائبو خلکو بد ویل او غیبت کول.
۲۹ـ د خلکو په شخصي کارونو کې ځان ورګډول یا ګوتې وهل.
۳۰ـ وخت او خپلو برنامو ته پاملرنه نه کول.

## د امربالمعروف، نهې عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت مرکزي مسؤولینو د بېلا بېلو اتحادیو له استازو سره ناسته ترسره کړه

د امر بالمعروف، نهې عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت د مسؤولینو له لوري د همدې وزارت په مقر کې د پلازمېنې کابل د یو شمېر اتحادیو د واده تالارونو، پانګوالو، کسبه کارانو، زرګرانو، صرافانو، د خصوصي چاپ خونو او هوټلونو د اتحادیو له مسؤلینو او ګذروکیلانو سره په اړوندو برخو کې د معروفاتو د اقامې، منکراتو د مخنیوي، د عامه اذهانو د تنویر او د وزارت له لوري د شویو سپارښتنو د پلي کولو او د هغوی د غوښتنو اورېدلو په موخه ناسته ترسره کړه.

په دغې ناسته کې چې مشرې یې د یاد وزارت د پالیسۍ او مسلکي مرستیال شیخ محمد فقیر محمدي په غاړه وه، د یادو اتحادیو د مسؤولینو سربېره د همدې وزارت د شکایتونو اورېدلو معین الحاج مولوي صدیق الله اسحاق، نظامي معین شیخ سعید احمد شهید خېل، د عمومي دفتر رئیس مولوي محمد اسحاق حکیم او یو شمېر نورو مسؤولینو هم ګډون درلود.

مسلکي معین شیخ محمد فقیر محمدي د ناستې ګډون والو ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل: تاسو د هېواد سرمایه او په ټولنه کې مهم رول لرئ، زموږ او ستاسو ګډ شرعي مسؤولیت دی چې د اسلامي نظام د پایښت او ټینګښت لپاره په اخلاص او صداقت خدمت وکړو، تاسو د صحني خلک یاست، کولی شئ چې ستونزې او مشکلات په سمه توګه درک کړئ او د اسلامي نظام قوانینو په لا ښه نفاذ او پلي کولو کې مسؤولینو ته خپلې نېکې مشورې او نظرونه وړاندې کړئ، نو په

ص ۳

# راپورونه

## بررسی فعالیت های چند مرکز صحی توسط محتسبین در شهر کابل

محتسبین شهری وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در ولایت کابل مطابق به فعالیت های اصلاحی روزانه شان از ۴۸ شفاخانه و کلینیک صحی باز دید نموده و درنشستی با مسئولین و داکتران، پیرامون تطبیق و رعایت احکام شرعی توصیه های لازم نمودند.

همچنان در این دیدار محتسبین ریاست شهری وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر ولایت کابل ضمن تأکید برخاتمه بخشیدن به نسخه های مبهم، پیرامون اصلاح سیرت و صورت کارمندان بخش صحی طبق سنت نبوی ﷺ، ادای نمازهای پنج گانه در جماعت، رعایت حجاب و اخلاق اسلامی؛ با پرسونل صحی و مریض داران گفتگو نمودند.

محتسبین از مسئولان نهاد های عرضه خدمات صحی در این ولایت خواستند که برای تمام داکتران در این ولایت آگاهی دهند تا مسئولیت های سپرده شده خویش را به شکل مسلکی با در نظرداشت احکام شرعی انجام داده و از نسخه نویسی مبهم و انحصاری که خلاف مسلک طبابت و شریعت اسلامی می باشد، پرهیز کنند.

با این حال رؤسای شفاخانه ها و کلینک های صحی از تشریف آوری محتسبین وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ابراز خرسندی کرده و تعهد همکاری نمودند.

## افزایش رحمت الهی در ماه مبارک رمضان

محتسبین ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت بامیان از مارکیت های تجارتی، مکان های ورزشی و ساحات پرازدحام شهر بازدید نموده، در نشست های متعدد با تاجران و مردم عام، پیرامون فضیلت ماه مبارک رمضان صحبت نموده گفتند رمضان از ماه های است که در آن خداوند ﷻ بیشتر از هر ماه دیگر به بندگانش رحمت می کند، در این ماه خداوند ﷻ بیشتر به توبه و آمرزش پاسخ می‌دهد و در آخرت برای روزه داران پاداش خاصی تعیین کرده است.

مسئولان ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات این لایت میگویند؛ دین مبین اسلام، فضیلت و ارزش ویژه‌ای را برای ماه رمضان بیان می کنند که این ماه فرصتی برای تقواء، پاکی، عبادت و آمرزش الهی است؛ مسلمانان باید از نعمت های این ماه پُر فیض بهره مند شوند.

طبق یک خبرنامه دیگر، رئیس ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات این ولایت، حین دیدار با علماء و ملا امامان مساجد گفت که علماء مکلف اند تا دستورات شریعت اسلامی را به مردم رسانده و از عواقب ناگوار عنعنات نامناسب؛ شهروندان را آگاه نمایند.

با این حال محتسبین ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر ولایت بامیان میگویند، علماء مسئولیت دارند تا در مقابل بد حجابی مبارزه جدی نموده پوشش صحیح اسلامی را به خانم ها توصیه نمایند و در اقامه معروفات و منع منکرات همکاری نمایند.